# شریعت
ورځپاڼه
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۲٤۹ ګڼه / پنجشنبه ۰۸ صفرالمظفر ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰۲ سنبله ۱٤۰۲ هـ.ش/ ۲٤ آګست ۲۰۲۳ میلادي


## ټولې دولتي ادارې مکلفې دي چې کورني توليدات وکاروي

د اسلامي امارت مشر په خپل تازه فرمان کې ویلي : وزارتونه او امــارتي اداري مکلفې دي چــې د کورنيو صنايعو د ودې لپــاره له کورنيــو توليداتو ګټه واخلي

په دغه فرمان کې چې د ذبيح الله مجاهد پر ټوېټرپاڼه خپور شــوی، راغلي چې وزارتونه او اړوندې امارتي اداري بايد په ټولو بندرونو، عبوري نقطو او لويو لارو کې سوداګرو ته

هــر ډول اســانتياوې رامنځته کړي.پــه فرمان کــې دغه راز ټول مســوولين مکلف شــوي چــې د خصوصي ســکتور له فعالانــو سره ښــه چلند او د اداري کارونــو لــه ځنډولــو

يــې ډډه وکــړي.دا فرمان په داسې حال کې خپرېږي، چې اسلامي امارت تل په کور دننه او بهــر پانګوالو ته د هر ډول لازمــو اســانتياو ډاډ ورکړی دی.

**مولوي امیرخان متقي له پاکستاني پلاوي سره په کتنه کې:**

# د لفظي شخړو او رسنيزو بيانونو پرځای دې د ستونزو عوامل پيدا شي



د پاکســتان د بهرنيو چــارو وزارت د ســتراتيژيکو مطالعاتو انسټيټوټ د مشر سهيل محمود په مشرۍ پلاوي او په کابل کې د پاکستان د سفارت سرپرست عبيدالرحمن نظاماني د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت له سرپرست مولوي اميرخان متقي ســره وکتل. متقي په دغه کتنه کې وويل چې افغانستان او پاکستان دوه ورونه او ګاونډي هېوادونه دي او ګڼ مشترکات لري، نو ځکه د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکي هم پر ښه ګاونډيتوب ۷مخ

## له افغان شخصيتونو سره د اړيکو کمېسيون په هڅو د تېرې اداري ۶۰۰ کارکوونکي هېواد ته راستانه شوي



د رياســت الوزرا سياســي مرستيال مولوي عبدالکبير په مشرۍ له افغان شخصيتونو سره د اړيکو او هېواد ته د شخصيتونو راستنولو کمېسيون خپله نوبتي غونډه کړې .په دې غونډه کې د ياد کمېسيون مشر او غړو يې هېواد ته د تېرې اداري د يو شــمېر پخوانيو مقاماتو، علمي او فرهنګي شخصيتونو پــر بېرتــه راســتنېدو او د هغوی پر وړانديزونــو خبــري کړې.دغه راز په غونډه کې د ياد کمېسيون د فعاليتونو پر ښــه والي او لاســته راوړنو بحث شــوی، چې چارې يې مثبتې ارزول شــوې.ياده غونډه داسې مهال ترسره کېږي، چې د دې کمېسيون په هڅو د ۶۰۰ په شاوخوا کې د تېرې اداري کارکونکي هېواد ته راستانه شوي.

## د کرنې په برخه کې له افغانستان سره د ايران مرسته

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ سرپرست وزير د ايران ته د ســفر پر مهال د ياد هېواد د کرنې له مرســتيال وزير مجتبی خيام او د ايــران د کرنيزو څېړنو، روزنې او ترويج مرکز رييس سره کتلي دي. په دې کتنه کې د ايران د کرنې مرستيال وزير مجتبی خيام وويل، چې دوی به له افغانســتان ســره د پوهنې او د نباتاتو نسلي بدلون په برخو کې مرسته وکړي. په همدې حال کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت سرپرســت عطاء الله عمــري د ايران د کرنې وزارت د مرستيال د وړانديزونو له اورېدو وروسته د دوی له همکارۍ څخه هرکلی کړی دی. تاکل شوې عطاء الله عمري به د دغه سفر په لړ کې د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د همکاريو د لا پياوړتيا او د افغانستان د کرنې او مالــدارۍ په برخه کــې د ايران هېواد د همکاريو پراختيا په پار خبرې اترې وکړي.

## د ښکلو هنرونو او صنايعو انسټيټوټ سل کلن شو

د ښــکلو هنرونواوصنايعوانسټيټوټ سل کاله وړاندې يعني د امان الله خان د واکمنۍ پر مهال يې د بنســټ ډبره کېښودل شوه، چې پرون يې د نوموړي انسټيټوټ د سلمې کليزې په مناسبت دهنري اثارو نندارتون پرانيستل شو.
ننداړتون چې د نوموړي انسټيټوټ په انګړ کې جوړ شوی و، د ښکلو هنرونو او صنايع انســټيټوټ آمر برهان الدين ميرزايي، دتخنيکــي اومســلکي زده کړومرســتيال فضل الرحمن فاضل، دفوټبــال فدراســيون ريس يوســف کارکــر، ددولتي ادارو غړو يو شــمېر رئيسانو، اســتادانو، زده کوونکــو او د رسنيو استازو په کې ګډون درلود.
د تخنيکي او مسلکي زده کړو مرستيال مفتي فضل الرحمــن فاضل وويل: دخوشــحالۍ ځای دی چــې دامن په فضا کې ســره راټول شــوي يو او د ښــکلو هنرونو انســټيټوټ سل کلنه غونډه نمانځو، يو وخت داسې و چې د نوموړي انســټيټوټ څخه د سنګر په توګه اســتفاده کېده، اوس اسلامي امارت د افغانســتان مجاهد ولس ته د ژوند په مختلفو برخو کې خدمات وړاندې کوي.



ښــاغلي فاضــل د دغه انســټيټوټ خدمتونه او فعاليتونه د قدر وړ بللي او ټولو مسئو لينو ته د مبارکۍ ترڅنګ د لاښه خدمت غوښتنه کړې ده.
د مســلکي او تخنيکــي زده کــړو مرســتيال زياتــه کــړه: د ښــکلو هنرونواوصنايعوانســټيټوټ خام مواد پېري، زموږ شاګردان اواستادان کومې جدي ســتونزي ســره مخ نه دي، له موږسره چې کوم امکانات شته ،هغه مودوی ته په اختيارکې ورکړي دي.
همدارنګه له مسلکي او تخنيکي زده کړوڅخه چې کــوم محصلين فارغ شي، په دولتي او خصوصي شرکتونو کې په دندو ګمارل کېږي.
د مسلکي او تخنيکي ... ۷مخ

**ملاعبدالواسع:**

## اسلامي امارت کې توپيري چلند شتون نه لري

د رياســت الوزرا د دفتر لوی رييس ډاکټــر مــلا عبدالواســع د لوګــر احمدزيو قوم له يو شمېر مشرانو او متنفذينو سره ليدنه کړې.د رياست الوزرا د دفتر لوی رييس؛ د سياسي او ولسي چارو رييس، يادو مشرانو او متنفذينو ته د ښــه راغلاست پر مهال ويلــي، اوس زموږ ولســونه د ډامــن امنيت په فضــا کې په ټول هېواد کــې هوســا ژوند لــري او ورځنۍ چارې يې په ښه ډول رواني دي. ۷مخ




نړيوال دې له افغانانو سره مرستې نه سياسي کوي
۲ مخ

مسافرينو ته په هوايي ډګرونو او شرکتونو کې خدمتونه ښه شوي
۳ مخ

موفقيت چيست و فرد موفق کيست؟
ص٤


### سرمقاله

## اشغالګرو په ناوړو منفي تبليغاتو پانګونه بنده کړې

اســلامي امارت واک ته له رسېدو سره سم تښتېدلي مافيايي کړۍ او د هغوی اشغالګر باداران پرته له دې چې له اسلامي امارت سره د يو واقعيت په توګه چلند وکړي په خپلو ناوړو کړنو ســترګې پټې کړي او د اســلامي امارت په وړاندې يې منفي تبليغات چې هېڅ اساس او رښــتينتوب نه لري پيل کړي چې تر دې دمه د نړيوالو د ذهنونو د ګډوډولو لپاره ترې کار اخلي، خو اسلامي امارت د خپل ســوله ييز دريځ او زغم له مخې تــردې مهاله خپلې چارې په پوره حوصله مندۍ پرمخ وړي او د هغو هېوادونو کړه وړه په ژوره توګه څاري،چې اوس هم په مختلفو پلمو د اسلامي امارت پر وړاندې ستونزې زېږوي.
اســلامي امارت واک ته د رسېدو له لومړي ورځې د نړيوال امنيت او په ځانګړې توګه د سيمې له هېوادونو سره د هميشني او تلپاتې امنيت د خونديتوب په هکله روڼ او همغږې سياســت غوره کړی او هڅه يې کړې چې د سيمې هېوادونو وړاندوينو او اندېښنو ته د خــبرو اترو له لارې لار وموندل شي چې د ټولو هېوادوالو لپاره د منلو وړ وي، اسلامي امارت د خپلو ژمنو بر بنسټ د سيمې امنيت د تاميــن لپاره کوټلي ګامونه پورته کړي چې له امله يې په کور د ننه سراسري امنيت تامين کړی او هېڅ غير ... ۷مخ

## بازګشت بيش از ۵ هزار مهاجر افغان از ايران

در دو روز ګذشــته بيــش از ۵هزار مهاجر افغــان از ايران به کشور برګشــته‌اند.وزارت امور مهاجريــن و عودت کنندګان در صفحه تويیتر خود نوشته است که روز سه‌شنبه(۳۱اسد) ۲ هزار ۳۰۸ مهاجر از ايران به کشــور برګشتند.بر اساس معلومات اين وزارت، ۹۹۹ تن از اين برګشت کنندګان، برای دريافت کمک‌ها به دفتر سازمان بين‌المللی مهاجرت معرفــی شــده‌اند.همچنان روز دوشنبه( ۳۰اسد) نيز ۲ هزار ٤۸۲ مهاجر از ايران به کشور برګشتند که ۸۷۲ تن آنها بــرای دريافت کمک‌ها به دفتر سازمان بين المللی مهاجرت معرفی شدند.مهاجرين افغان در ايران و پاکستان همواره ازآزار واذيت از سوی پوليس اين کشورها شکايت دارند.


**مولوی ثاقب:** 

## ملا امامان مساجد از اجرای ساير وظايف خود داری نمايند



دفتر مطبوعاتی وزارت ارشاد ، حج و اوقاف با نشــر اين خبر ګفته است : شيخ الحديث دکتور مولوی نور محمــد ثاقب وزير ارشاد، حج واوقاف در نشستی که درآن وزارت برګزار شده بود بيان داشته اســت٬ يک سلسله مشکلات در مساجد وجود دارد که بايد ... ص۷

## کابل کې د سړک جوړولو چارې پيل شوې



کابل ښاروالۍ د دوه ويشتمې ناحيې او بګراميو ولسوالۍ اړوند په ګوسفند دره ســيمه کــې د څه بانــدې ۳٤ ميليونو افغانيو په لګښت د يوه سړک

د جوړولــو چارو د پيل خبر ورکوي. په يادو مراسمو کې د کابل ښاروالۍ د ښــاري خدمتونــو او چاپېريــال ساتنې مرستيال مولوي محمد خالد سجســتاني وويل، چې ترانسپورتي آسانتياو ته د لاس رسي او له ښاري آســانتياو څخه محرومو سيمه ته د آســانتياو رامنځته کولو په موخه به، د ســړک جوړولو دغه پروژه د ۲ زره ۹۳۸ مترو په اوږدوالي او د ۷.٤مترو په سور سره، د څه ... ۷مخ

## د ملي راډيو تلوېزيون نوي رييس دنده پيل کړه

قــاري محمــد يوســف احمدي د ملــي راډيــو تلويزيــون د نوي رييس پــه توګه دنده پيل او د يوې غونډې په ترڅ کې د ياد تلويزيون کارکوونکو ته ور وپېژندل شــو.د ښــاغلي احمــدي د معرفــي په غونډه کې د اســلامي امارت ګڼو چارواکــو او د ملــي تلويزيــون رهبــري او کارکوونکو ګډون کړی و.پــه دې غونډه کې د اســلامي امــارت چارواکو پــه اداراتو کې تغير او تبديل يو اصل او د کارونو د لا ښه والي او پرمختګ په موخه اړين ګام وباله.د اسلامي امارت مرســتيال ویاند بــلال کريمي د ملي تلويزيون کارکوونکي متعهد او ژمن وګڼل او ډاډ يې ورکړ، چې د ښــاغلي احمدي په راتګ ســره به يــې په چارو کــې لا پرمختګ وشــي.د ملــي راډيــو تلويزيون پخواني رييس مولــوي احمدالله وثيق ... ۷مخ

# نړیوال دې له افغانانو سره مرستې نه سیاسي کوي

## تبصره

د افغانستان روغتیايي سیستم د دغه هېواد د ځینو نورو سکتورونو په څېر په نړیوالو مرستو فعال دی او دغه مرستې باید ترهغه پورې دوام وکړي، ترڅو افغانان وکولای شي د هېواد روغتیايي سیستم په پښو ودروي.د باختراژانس مبصرلیکي: د افغانستان د خلکو ستونزې بې شمېره او پراخې دي، په حقیقت کې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته له تېر نظام څخه یو ګډوډ روغتیايي سیستم په میراث راپاتې دی، که څه هم د دغه سیستم د بیا رغولو او را ژوندي کولو لپاره اراده شته، خو دغه هدف ته تر رسېدو پورې نړیواله ټولنه باید دا خپل مسوولیت وبولي، چې د روغتیايي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې له افغانانو سره مرسته وکړي.د عامې روغتیا وزارت سرپرست ډاکټر قلندر عباد د دغه وزارت د کلنې راپور ورکولو په پروګرام کې وویل، چې د هېواد د نږدې درې سوه ولسوالیو اوسېدونکي روغتیايي خدمتونو ته بشپړ لاسرسی نه لري.د نوموړي دغه څرګندونې ښيي، چې د افغانستان د خلکو یوه لویه برخه له روغتیايي خدمتونو څخه لرې ده، په داسې حال کې چې دغه هېواد ۴۰ کلونو جګړو په ترڅ کې خپل روغتیايي بنسټونه له لاسه ورکړي او پیاوړي نړیوال ملاتړ ته اړتیا لري.په همدې حال کې د روغتیا د نړیوال سازمان مشر خبر داری ورکړی، چې په افغانستان کې وضعیت کړکېچن دی او د روغتیايي برخې او کارکوونکو د ملاتړ لپاره د منابعو او بودجې کمښت د بې شمېره خلکو ژوند له خطر سره مخ کړی دی.سره له دې چې په بېلابېلو برخو کې د افغانانو ستونزې پراخې او تعریف شوې دي، نړیواله ټولنه هم له دغه مسوولیت څخه تېښته کوي او افغانان یې له زیاتو ستونزو او کړاونو سره یوازې پرې ایښي دي، نو د داسې ګډوډیو په شتون کې، د هېوادونو او سازمانونو همکاري زیاته مهمه ده.په داسې حال کې، چې د ځینو نورو سکتورونو په څېر په افغانستان کې روغتیايي برخه هم د نړیوالو بنسټونو مرستې ته اړتیا لري، د سره صلیب نړیوالې ادارې پرېکړه کړې، چې د روانې عیسوي میاشتې تر پایه په افغانستان کې له ګڼ شمېر روغتونونو سره خپلې مرستې بندې کړي، چې دا یوه مایوسه کوونکې خبره ده.باید وویل شي، چې افغانستان په اضطراري حالت کې دی او د روغتیايي سکتور د ملاتړ په برخه کې هر ډول ځنډ ناورین زیاتولی شي.دا ډول ستونزو ته په پام سره به ښه وي چې د نړیوال سور صلیب په ګډون نړیوال سازمانونه د افغانستان په اړه یوه معقوله تګلاره غوره کړي، په دغه هېواد کې لومړیتوبونه په پام کې ونیسي او له اړمنو او د افغانستان له روغتیايي سیستم سره مرستو ته دوام ورکړي.په افغانستان کې د روغتیايي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د نړیوالو موسسو د مرستو دوام حیاتي دي، په داسې حال کې چې د دا ډول مرستو په بندیدو سره به په افغانستان کې روغتیايي سکتور له جدي ستونزو سره مخ شي.د افغانستان د خلکو هیله له نړیوالې ټولنې، نړیوالو بنسټونو او له نړیوال سره صلیب سازمان څخه دا ده، چې له سیاسي موضوعاتو ورهاخوا د افغانستان له روغتیايي برخې سره د بشري ارزښتونو له مخې خپلو مرستو ته دوام ورکړي. که څه هم د روغتیا د سکتور او نورو برخو کې د نړیوالو بنسټونو مرستې له پیل څخه پراخې او بنسټیزې نه وې، خو وې کولای شول تریوې اندازې پورې ستونزې کمې کړې. افغانان نه یوازې دا چې په اوسنیو شرایطو کې د روغتیا په برخه کې د مرستو بندول معقوله لار نه ګڼي، بلکې له نړیوالو سازمانونو څخه د رغنده او غوره دریځ غوښتنه کوي، ترڅو له اړمنو افغانانو سره په ښه توګه مرسته او همکاري وشي.

# د دوحې راتلونکې غونډې ته د افغانانو هیلې!

**احمدراشد**



تاکل شوې په نږدې راتلونکي کې د افغانستان په تړاو د قطر پلازمېنه دوحه کې د ملګرو ملتونو په نوښت نړیواله غونډه جوړه شي او د نړۍ د هېوادونو استازي په کې ګډون وکړي.که څه هم په دې تړاو په رسمي توګه څه نه دي ویل شي، خو د مالوماتو پر اساس په دغه غونډه کې به د اسلامي امارت استازي هم ګډون کوي.

څو میاشتې وړاندې هم د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتیرېش په نوښت د افغانستان په تړاو په دوحه کې غونډه جوړه شوې وه ،چې د ګڼو هېوادونو استازو په کې برخه درلوده،خو افغان لوري ته په کې د ګډون رسمي بلنه نه وه ورکړل شوې،خو په ټوله کې هغه نړیوالې غونډې چې اجنډا یې د افغانستان پر موضوعاتو راڅرخي او د افغان حکومت استازو ته په کې ونډه ورکړل شي له ګټې خالي نه بریښي ،افغان حکومت باید له دغه ډول غونډو بشپړه ګټه واخلي او نړیوالو بهانو او پلمو ته د پای ټکی کېږدي .په هر حال په تېرو نږدې دوو کلونو کې د افغانستان د سیاسي کړکېچ د حل لپاره ګڼ شمېر غونډې جوړې شوې، خو تر اوسه په عملي ډول اغېزناکې نه دي تمامې شوي، ځکه د نړۍ او سیمې هېوادونو له لوري د افغانستان قضیې ته ارزښت نه ورکول د دې لامل شوي چې د افغانستان په اړه جوړې شوې غونډې بې ګټې پاتې شي، ځکه د افغانستان په اړه سیمه‌ییزې او نړیوالې غونډې یوازې د خپلو ګټو لپاره جوړېږي.دا چې اسلامي امارت ټول هغه معیارونه پوره او قانوني پړاوونه وهلي، چې دوه کاله وړاندې په دوحه کې پرې هوکړه شوې وه، خو نړۍ بیا هم ورسره رسمي تعامل نه دی کړی او په رسمیت یې نه پېژني، ګنې اسلامي امارت تل په دې ټینګار کړی، چې له نړۍ سره د ډیپلوماتیکو اړیکو نوی باب پرانیزي او شته ستونزې د خبرو له لارې حل کړي، خو بیا هم امریکا په افغانستان کې د سترې لوبې له سیاسته لاس نه اخلي او افغانانو مشروع غوښتنو ته لومړیتوب نه ورکوي، همدا اوس اسلامي امارت ته د امریکا په مشرۍ په پوره پېمانه ستونزې زېږول شوې، چې له ډیپلوماتیکې پېژندنې یې بې برخې کړي، ورځ تر بلې مرستې پرې کمېږي ، له هر ډول بندیزونو سره مخ او شتمنۍ یې کنګل دي.

د امریکا او اسلامي امارت تر منځ د فبرورۍ پر ۲۹مه د سولې هوکړه لاسلیک شو. «افغانستان ته د سولې راوستلو تړون» په نوم د دې هوکړې مقصد له افغانستانه د ناټو شل کلنې جګړې ته د پای ټکی اېښودل وو.د تړون مراسم ، چې په قطر کې تر سره شول، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او د اسلامي امارت له خوا ملا عبدالغني برادر تر منځ د افغان سولې په نامه تړون لاسلیک شو.

په تړون کې راغلي چې امریکا او اسلامي امارت له یو بل سره مثبت اړیکې غواړي او تمه لري چې د بین الافغاني مذاکراتو په پایله کې به له جوړ جاړي وروسته د رامنځ ته شوي نوي اسلامي حکومت او امریکا اړیکې مثبتې وي او له دغه نوي حکومت سره به د بیارغونې په چارو کې اقتصادي همکاري وکړي او د دوی په داخلي چارو کې به مداخله نه کوي.

امریکا خپله له دوحې تړونه سرغړونه کړې او هغه هوکړې یې نه دي عملي کړي، چې د اسلامي امارت له چارواکیو سره پرې توافق شوی و. امریکا په دغه تړون کې د افغانستان له سرپرست حکومت سره د رسمیت پېژندلو او مرستو ژمنه کړې وه، خو اوس سرغړونه ترې کوي، دغه راز امریکا د تړون له مخې مکلفه وه چې د ۲۰۲۰م کال د اګست میاشتې تر ۱۵ مې نېټې پورې هغه بندیزونه لرې کړي،چې د دوی له لوري په ظالمانه ډول د اسلامي امارت په غړو باندې لګول شوي وو او په دې توګه باید تور لیست او د جایزې لیست مکمل ختم شوی وای، خو ملل متحد او امریکا نه یوازې دا چې د دې بندیزونو په لرې کولو کې عملي ګام پورته نه کړ، بلکې د بندیزونو د څار کمېټې مشري یې هند ته وسپارله او لا تر اوسه یې د اوسني حکومت د مشرانو نومونه له تور لېسته نه دي ایستلي چې بهرنیو هېوادونو ته په آزادانه توګه سفرونه وکړای شي، امریکا د افغانستان ملي شتمني یې کنګل کړې او د دوحې تړون خلاف یې د افغانستان ملت له دوامدارو سیاسي او اقتصادي بندیزونو سره مخ کړی،همدارنګه د افغانستان فضايي حریم لا هم د امریکا په لاس کې دی او د جاسوسۍ لپاره یې د افغانستان خاوره تر څار لاندې نیولې ده! په همدې تړاو ټول افغانان هغو غونډو ته ډېره هیله مندي ښيي، چې افغان لوري ته په کې ونډه ورکړل شي، ځکه هغه ستونزې چې د افغانستان او نړۍ ترمنځ پرتې دي په داسې غونډو کې به د افغانستان او نړۍ ترمنځ د ګډو اړیکو ټینګښت ته لاره پیدا شي او دواړه لوري به یو بل ته قناعت ورکړای شي.په دې غونډه کې باید د اسلامي امارت مشرتابه لومړی د افغانستان په تړاو دوحه غونډه کې له امریکایي سره د افغانستان د اشغال شوي فضايي حریم مسئله مطرح کړي او نړۍ ته په ډاګه کړي چې واشنګټن لاهم د افغانستان فضاء اشغال کړې ده.

دوهم داچې د نړۍ د مشروع غوښتنو په برخه کې له نړیوالو سره تفاهم ته د رسېدو ترڅنګ د غونډې له ګډونوالو وغوښتل شي،چې ټول هغه تښتېدلي جنګي جنایتکاران چې د خپلو شخصي ګټو په پلمه یې شل کاله د افغانانو پر سر هر ډول لوبې وکړې او په یوه او بل نوم یې زرګونه هېوادوال قرباني کړل د محاکمې مېز ته راکش کړي او حساب و کتاب ورسره وشي، ځکه د اسلامي امارت د مشرتابه په ګډون ټول لوړپوړي چارواکي باید ملي ارزښتونو ته په ډېره جدي توګه پاملرنه وکړي، ځکه دا ډېره جدي مسئله ده.

هغه هېوادونه، چې په افغانستان کې د ټول‌شموله حکومت غوښتونکي دي؛ تر اوسه یې د اسلامي امارت لپاره د ټول شمولیت واضح تعریف نه دی وړاندې کړی،له همدې امله ټول افغانان دا یوه بهانه بولي او اوس په دې ښه پوه شوي او د دوست او دښمن ښه تفکیک کولای شي! دا،چې د افغانستان په اړه هر څوک ځانته څرګندونې کوي، خپل کار یې دی، خو په نړۍ کې هېڅ داسې هېواد نشته، چې سیال ونه لري او پر چا بېځایه نیوکه و نه کړي، مهمه دا ده، چې په ټول هېواد کې مخالفت نه شته، ان یو جریب ځمکه هم د مخالفینو تر واک لاندې نه ده او مخدره توکي صفر ته راټیټ شوي دي.

د امریکا په مشرۍ د سیمې او نړۍ هېوادونه که په واقعي توګه د افغانستان او افغانانو د راتلونکې لپاره اندېښمن وي او غواړي افغانستان له سیاسي بحرانه خلاص کړي، نو د اسلامي امارت هره مشروع غوښتنه دې په ورین تندي ومني، چې د دوحې په غونډه کې پرې توافق شوی دی.

لنډه داچې اسلامي امارت د یوه خپلواک او ازاد هېواد په توګه د ناپیلي او بې پرې سیاست له مخې له سیمې او نړۍ سره د ډیپلوماتیکو اړیکو پر پراختیا ټینګار کوي او تل یې هڅه کړې،چې د متوازن تعامل پر بنسټ د متقابلو ګټو د خوندیتوب لپاره لاره هواره کړي ترڅو د سیمې او نړۍ په کچه له هېوادونو سره د راکړې ورکړې په وړاندې هر ډول خنډونه او ستونزې له منځه ولاړې شي او په سیمه کې د نوي اقتصادي پیاوړتیا لپاره د عملي ګامونو په پورته کېدو سره پرمختیايي خوځښت لپاره د ګړندیتوب چاره سمبالښت ومومي.

# مسافرینو ته په هوايي ډګرونو او په شرکتونو کې خدمتونه ښه شوي

**نوري**

د افغانستان اسلامي امارت د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت د خپلو فعالیتونو په لړ کې د هېواد د نړیوالو هوايي ډګرونو د بیارغاونې او مسافرینو ته د ښو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره اسانتیاوې برابرې کړې دي. اوس د هېواد څلور هوايي ډګرونه لکه: کابل، هرات، کندهار او مزار په معیاري ډول مسافرو ته په کورنۍ او بهرنۍ سطحه د سفر لپاره چمتو شوي دي. په هواکې د پېښو د مخنیوي لپاره د رادارو دستګاوې درول شوي. اوس افغانې دوه شرکتونه لکه آریانا او کام ایر زموږ ګاونډیو او د سیمې ځینو هېوادونو ته پروازونه لري. د تېرو دوو کلونو په پرتله نړیوال هوايي ډګرونه معیاري او ولایتونو او بهرته د تللو لپاره په کې د هوساینې امکانات منځ ته راغلي دي. په دې تړاو زموږ خبریال د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت له عملیاتي معین کپتان غلام جیلاني-وفا سره مرکه کړې، چې خپرېږي.

**پوښتنه: د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هوايي ډګرونو خدمات څنګه دي؟**

**ځواب:** مسافرینو ته د هوايي ډګرونو او هوايي شرکتونو خدمتونه ښه شوي دي.

د افغانستان اسلامي امارت د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت په خپل تشکیل کې څلور نړیوال هوايي ډګرونه لري. لکه کابل، مزارشریف، هرات او همدارنګه کندهار. سربېره پر دغو هوايي ډګرونو ۲۴ نور کورني ډګرونه هم شتون لري. دغه ډګرونه ډېر د بشري مرستو د رسولو او د امبولانس پروازونو لپاره کارول کېږي. اوس له دغو هوايي ډګرونو څخه کار اخیستل کېږي؛ خو له نړیوالو هوايي ډګرونو ډېره ګټه پورته کېږي.

**پوښتنه: بهرته د مسافرو د لېږد او رالېږد بهیر څنګه دی؟**

**ځواب:** دوه هوايي شرکتونه آریانا افغان شرکت، چې د اسلامي امارت ملي شرکت او همدارنګه د کام ایر شرکت د هېواد په دننه کې فعالیت لري؛ چې ډېر انتقالات ګاونډیو او د سیمې نورو هېوادونو ته ترسره کوي. د بېلګې په ډول: د کابل له نړیوال هوايي ډګره دوبۍ، ابوظبي، کویټ، ډهلي، تاشکند، ترکیې او همداشان جدې، ریاض، مدینې منورې، ته د حاجیانو لېږد او رالېږد ترسره کېږي. د دغو دوو هوايي شرکتونو ترڅنګ د ایران دوه شرکتونه لکه د کیش ایر او ماهان نومېږي د کندهار، کابل او مزار هوايي ډګرونو ته الوتنې ترسره کوي. دا الوتنې له تهرانه تر کابل او همداسې له مشهد نه تر مزارشریف او له مشهده تر کندهار او همدارنګه له کندهاره تر تهران پورې هم الوتنې ترسره کېږي. هغه مسافرین، چې اروپایي او امریکایي هېوادونو ته تګ اوراتګ کوي د دوبۍ له هوايي لارو څخه ترسره کېږي؛ خو ډېر مسافرین د ترکیې له لارې لېږدول کېږي. سربېره پر دې د ایران پلازمېنې تهران له لارې هم افغانستان ته تګ او راتګ کولی شي.

**پوښتنه: د اریانا او کام ایر شرکتونه څو الوتکې د مسافرینو د لېږد او رالېږد لپاره په واک کې لري؟**

**ځواب:** د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت د آریانا او کام ایرپر شرکتونو او الوتکو څخه څارنه او نظارت کوي. دغه شرکتونه؛ ځکه راجستر دي، چې افغاني تابعیت لري او د افغانستان لپاره فعالیت کوي. کام ایر شرکت له لسو ډېرې الوتکې په واک کې لري او همداراز د آریانا هوايي شرکت څلور الوتکې په واک کې لري. اریانا هوايي شرکت د دوو نورو الوتکو د پېرلو هوډ لري د دغو الوتکو اداري پړاو تر اتیا سلنې پورې ترسره شوی دی. پېرل شوې الوتکې په ټولو برخو کې چک شوي او دافغانستان د اسلامي امارت د مشر فرمان هم په دې برخه کې نافذ شوی دی. د دغو دوو الوتکو په ترلاسه کولو سره به اریانا هوايي شرکت د شپږو الوتکو څښتن شي.

**پوښتنه: د افغانستان له فضاڅخه، چې کومې بهرنۍ الوتکې تېرېږي د حق العبور بهیر یې منظم شوی که په پخوانۍ بڼه ترسره کېږي؟**

**ځواب:** د افغانستان فضا ته د بهرنیو الوتکو د راداخلېدو په اړه باید ووایم، چې له ۸۵ الوتکو تر ۱۰۰ پورې هره شپه او ورځ زموږ له فضاڅخه تېرېږي. د دغو ټولو الوتکو ثبت، تاریخ، خط السیر او ځانګړتیاوې زموږ د هېواد له خوا ترسره کېږي. همدارنګه له ګاونډیو هېوادونو سره هم الوتکې ثبت دي. موږ په دې هکله تړونونه لرو، چې ټول معلومات زموږ په واک کې راکړل شي؛ خو له بده مرغه، چې د اوس لپاره کوم ځانګړې بانکي حساب نه شته. د دغې ستونزې د لرې کولو لپاره د ګټ له امارتي کمپنۍ سره تړون شوی دی. موږ هیله من یو، چې څومره ژر دغه بانکي حساب د یادې کمپنۍ په واک کې ورکړل شي. په دې کار سره به د تېرو کلونو او راتلونکو کلونو عواید راټول شي. د نړۍ له څلوېښتو تر پنځو څلوېښتو هوايي کمپنیو الوتکې د افغانستان له فضا څخه تېرېږي او راتېرېږي. دغه شرکتونه ټول د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت څخه د داخلېدو اجازه ترلاسه کوي. دوی دا تعهد کړی، چې مالیه به د افغانستان په نامه بانکي حساب ته ورکوي.

**پوښتنه: په پخواني نظام کې د الوتکو د پروازونو د تنظیم او کنترول لپاره د فرانسې او جرمني له یوې ګډې کمپنۍ څخه رادار سیستم د پېرلو تړون لاسلیک شوی، دغه رادار ترلاسه شوي که څنګه؟**

**ځواب:** په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې یو تړون د فرانسې او جرمني د ګډې کمپنۍ سره، چې د تالس په نامه یادېږي لاسلیک شوی. په هغه تړون کې ۱۲ رادار شامل وو، چې باید د هېواد په بېلابېلو هوايي ډګرونو کې د ملکي الوتکو د خوندیتوب او کنترول لپاره چې الوتکې سره نژدې نه شي درول شوي وای. له دغو رادارو څخه ۳ یې هېواد ته رارسېدلي، چې یو پایه په کابل، یو پایه په هرات او همداسې یو پایه د مزارشریف په هوايي ډګر کې درول شوی دی. دغه رادارونه د ستلایت په سیستم یا د سپوږمکۍ له لارې کار کوي. دغه برخې یې تر اوسه پورې فاینل شوي نه دي. د پخواني نظام په نسکورېدو سره کوم تړون چې وو هغه نیم ځوړند پاتې شوی دی. د فرانسې او جرمني ګډې تالس کمپنۍ ته نه دي ورکړل شوي. د یاد تړون نورې چارې هم درېدلي دي. د اسلامي امارت مشرتابه او همدارنګه د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت هڅه او هاند کوي، چې له هرې لارې، چې وي دغه تړون باید بېرته بشپړ شي.

**پوښتنه: د افغانستان نړیوال هوايي ډګرونه څومره ترمیم او د مسافرو لپاره خوندي شوي ؟**

**ځواب:** د هوايي ډګرونو د بیارغاونې او ترمیم چارې دوامداره دي. لکه یو سړک، چې هر دوه کاله وروسته د راپیدا شویو تخریباتو له امله رغېدو ته اړتیا پیدا کوي. هوايي ډګرونه هم د ګټې اخیستنې او نه اخیستلو پر مهال استهلاک کېږي. لکه رنوې، تجهیزات او تاسیسات. په تکرار سره وایم، چې د هوايي ډګرونو رغول یو دوامداره پړاو دی. موږ د هېواد د هوايي ډګرونو د بیارغاونې چارې په تېره بیا د څلورو هوايي ډګرونو له قراردادیانو سره لرو. په هر هوايي ډګرکې، چې لږ غوندې هم تخریبات پیدا شي د هغه د رغولو او ترمیم چارې تر لاس لاندې نیول کېږي.

**پوښتنه: د ټولو هوايي ډګرونو د معیاري کېدو او همداسې د الوتکو د خوندي الوتنو لپاره څه پلان لرئ؟**

**ځواب:** یو کال وړاندې موږ د متحده عربي اماراتو له ګټ هوايي کمپنۍ سره د هوايي ډګرونو د معیاري کولو لپاره تړون لاسلیک کړی دی. د دغه تړون اعتبار تر پنځو کلونو پورې تاکل شوی دی . همدا اوس د دغو هوايي ډګرونو د معیاري کېدو چارې روانې دي. موږ هیله من یو، چې د تړون په بشپړېدو سره به زموږ څلور نړیوال هوايي ډګرونه هېوادوالوته د ښو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره چمتو شي. موږ به نورو بهرنیو شرکتونو ته هم بلنه ورکړای شو، چې افغانستان ته خپلې الوتنې پیل کړي.




# په پردي هیواد کې قبلېدل لوی ذلت دی!

**ساجدالله(عظمت)**

کله چې د عباسیانو خلافت په بغداد کې ځلېده او د امویانو خلافت په اندلس کې په عروج و، نو له ټولې نړۍ به وګړي د ټولو علومو د زده کړې لپاره د مسلمانانو علمي مراکزو ته ور روان وو، هلته به یې له علم او تحصیل سره اخلاق هم زده کړل، ولې کله چې عباسي خلافت په (۶۵۶ هـ ق) کې د مغول هلاکو له لوري رنګ شو او همداراز په ۹ مه هجري پېړۍ کې د اندلس اسلامي خلافت د عیسویانو په لاس له پښو وغورځېده، نو د مسلمانانو کمزورتیا پیل شوه. اما بیا هم د نړۍ په ډېرو برخو کې د مسلمانانو له لوري قوي او ځواکمن حکومتونه جوړ شول.

د اندلس د اموي ستر واکۍ او د عباسي خلافت د واکمنۍ پر مهال، د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه خلک ورتلل، خو وروسته چې اسلامي نړۍ په وړو وړو هېوادونو ووېشل شوه، نو د عیسوي نړۍ له خوا د اسلامي نړۍ په اکثرو هېوادونو تېري او یرغلونه وشول او ډېر یې د استعمار تر سلطې لاندې راغلل، له نېکه مرغه چې اسلامي نړۍ بېرته په تدریج سره خپلواکي ترلاسه کړې، ولې له استعمارګرو سره د خلطیت له امله ډېرو وګړو په ځانګړې ډول د اشغال پر مهال د اړوندو هېوادونو واکمنان او د هغوی اولادونو له غربي کلتور او عنعناتو سره زړونه وتړل، لوېدیځ ته د زده کړو او د سیل او سیاحت لپاره لاړل او همالته د هغوی په کلتوري رنګ باندې رنګین شول او د هغوی کلتور او عنعنات یې خپلو هېوادونو ته وراد کړل، بل دا چې لوېدیځوالو د اسلامي نړۍ ډېر وګړي خپلو هېوادونو ته ور وبلل چې له خپل هېواده به سم صحیح انسان لاړ او بېرته به کوږ راوګرځېده.

غربي نړۍ ته تلل یو عام معمول جوړ شو، د لویو خلکو اولادونه لوېدیځ ته لاړل، نو زموږ له ګران هېواده هم د امان الله خان له دوري وروسته؛ تلل پیل شول، ورسره اتحاد جماهیر شوروي ته هم د تعلیم او تحصیل لپاره ډېر افغانان ورمات شول چې په اساس یې له لوېدیځه د سیکولریزم په فلسفه لړلي راستانه شول او له شوروي څخه یې د کمونېزم کرغېړنه غیرفطري مفکوره راوړه!!!

د دواړو فلسفو والا په خپل منځ کې سره مخالف وو، چې زموږ ټاټوبي یې د مقابلې ډګر و، دواړه ډلې د هېواد په زیان وې، سیکولرسیاست والو هم هېوادوال بې لارې کول او د مارکس پلویانو هم د مارکسیزم فلسفه د بشر لپاره ناجي او منجي ګڼله او وګړي یې ګمراه کول، خو غیورو افغانانو په ۴۳ کلونو کې دا جوته کړه چې دواړه فلسفې او دې ته ورته نورې مفکورې په دې هېواد کې نه چلېږي.

د سردار محمد داود خان له کودتا وروسته ډېرو خلکو لوېدیځ ته مخه کړه او هلته یې سیاسي پناوې واخیستې او د کمونستانو د غوایي له اوښتونه وروروسته ډېر کسان غرب ته وتښتېدل چې هلته په اړوندو ملکونو کې ومنل شول، بیا یا هغوی په خپله یا یې اولادونه د صلیبي اشغال پر مهال هېواد ته راغلل او د صلیب د زامنو خدمت یې وکړ او د خپل ملت اصلي بچیان یې پر هغوی تحقیر او توهین کړل. کله چې په هېواد کې د صلیب ملا ماته شوه، نو پخواني تښتېدلي بیا لوېدیځ ته په منډو شول او له خپلو بادارانو مخکې وتښتېدل.

غربي نړۍ ته د تللو سلسله ښه ګړندۍ شوه، بلکې د صلیبیانو له راتلو سره یې سرعت وموند، هغو هم زمینه ورته مساعدوله، ځکه دې خلکو د ښکېلاکګرو ښه خدمت کولی شو. ځینې هغه خلک چې له اسلامي امارت سره حساسیت لري، هغوی وایي: په هېواد کې لوږه او فقر دی، ځوانان مجبور دي چې بهر ته لاړ شي. خو د دوی دا ادعا ناسمه ده ځکه د اشغالګرو د شتون پر مهال هم د غرب مینانو په غرونو، دښتو او مستو سیندونو په لیونیو څپو باندې ځانونه لوېدیځو هېوادونو ته رسول، چې هغه مهال هم ډېر د سیندونو د کبانو خوراک شول، خو په هغه وخت کې د اسلام دښمنانو داسې نه ویل چې: په افغانستان کې لوږه، بېوزلي او فقر دی، نو ځکه دا خلک هېواد پرېږدي او بهرنیو هېوادونو ته په قاچاقي لارو ځي، هغه مهال هم د ماډرن او مرفه ژوند لپاره تلل، اوس هم ځي. د اشغالګرو د شتون پر مهال چې لوېدیځ ته تلل او د دلیل جوړولو لپاره به یې دوسیه ترتیبوله نو له ستونزو سره مخ کېده، اما اوس په دې اړه له دومره ستونزو سره نه مخامخ کېږي؛ ځکه دوی له اسلامي نظامه تښتي او کافران یې هم په ورین تندي مني.

هو! کله چې د یوې کورنۍ کوم کس غربي نړۍ ته لاړ شي، هلته ورسېږي، د مربوط او مطلوب هېواد له خوا ومنل شي، نوموړی له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیسي چې زه خو دلته ومنل شوم (د دوی په اصطلاح) قبولې یې راکړه، نو کورنۍ یې د خوښۍ او خوشحالۍ پروګرامونه پیل کړي، که اسلامي شریعت ته مراجعه وکړو، په دا ډول منل کېدا او قبولې خوښي او خوشحالي حرامه ده؛ ځکه هغه منل شوی شخص اول دا ژمنه کوي چې: زه به د دې هېواد قانون منم، عمل به پرې کوم او درناوی به یې کوم!! او دا قبلېدل او منل کېدل هم کوم عزت نه دی، بلکې ذلت دی.

**قبلېدل د چا په درکې لوی ذلت دی**<br>
**که نقصان نه وي په عقل او شعور کې**<br>
**ګل پاچا الفت**

خو چې له عقل او شعوره خلاص وي، بیا هغه له خپلو ټولو اسلامي او ملي ارزښتونو تیرېږي، څو د لوېدیځ ماډرن، مرفه او بې بندوباره چاپېریال کې قبول شي.

د لوېدیځ مینان او عاشقان وایي: د فقر او بېوزلۍ له امله بهرنیو ملکونو ته ځي، نو دا څنګه فقیران دي چې په زرګونو ډالر قاچاقبرانو ته ورکوي، هغه هم په ضمانت نه وي، ممکن مطلوب هېواد ته یې ورسوي یا و نه رسوي، نو دا څنګه فقر او بېوزلي شوه!؟ په زرګونو ډالرو باندې په خپل هېواد کې یو کار روزګار روانېدای شي، خو دا خلک د غرب د بې بندوباره ژوند عاشقان دي!

آیا کفري هېوادونو ته د کار لپاره سفر کول او هلته مېشتېدل روا دي؟

یوازې د داسې علومو د زده کړې لپاره تلل او سفر کول چې هغه په خپل هېواد یا نورو اسلامي ملکونو کې نه ترلاسه کېږي او مسلمانان اړتیا هم ورته لري، بیا په ځینو شرایطو سره کفري هېواد ته د هغو علومو د زده کړې لپاره تلل روا دي او له دې پرته جائز نه دي. اللهي قانون دی چې پاک او ناپاک سره جلا کوي، نو کوم کسان چې کفري نړۍ ته ځي، هغوی نجس دي، له خپل ټاټوبي پښې سپکوي او وځي.

الله جل جلاله وایي: ژباړه: که څوک کفري ملکونو ته تلل جائز ګڼي، هغوی چې کله ویده کېږي له هغه مخکې دې له ځانه سره سوچ او فکر وکړي، چې زه ځم، خپله کورنۍ هم بیایم، زما دا واړه ماشومان به د اسلام په مبارک دین قائم پاتې شي که نه؟[۳۷/انفال]

رسول الله مبارک ویلي: «کل مولود یولد علی فطرة فأبواه یهودانه أو یمجسانه او ینصرانه» هر ماشوم په فطري ایمان سره پیداکېږي، خو مور و پلار یې یا یهودیان کوي یا یې مجوسیان کول او یا یې نصرانیان کوي. (متفق علیه)

نو اې لوېدیځ ته تللیواو تلونکو! لږ په خپلو ګرېوانونو کې سرونه ښکته کړئ، د خپل ځان او اولاد په اړه غور وکړئ، ستا اولاد چې په ښوونځیو کې درسونه وایي، هغه هم په مسیحي ښوونځیو کې؛ آیا هغوی به مسلمان پاتې شي!؟ ډېر دا دلیل وایي، والله په پلانې هېواد کې دومره مسجدونه دي، دومره مسلمانان دي، په زور خو څوک کفر ته نه مجبوروي! سمه ده کفر (مسیحیت) ته دې نه اړ باسي، خو د هغو هېوادونو حکومتونو داسې ژوند د مسلمانانو د بچو لپاره برابر کړی وي چې هغه بېچاره ګان په ځان خبر هم نه وي او له اسلامه وتلي وي، یوازې په نومونو سره خو مسلمان نه پاتې کېږي، نوم به یې عبدالله، عبدالرحمن یا احمد وي خو عمل، کړه وړه او عقیده به یې د عیسوي وي او کله چې ستاسو اولاد د بلوغ مرحلې ته ورسېږي، نو د خپل هېواد خلک که درسره وي، له هغو سره به خیښي وکړي او که نه وي، بیا له مسیحیانو سره هم تاسو خیښي کوئ!!

نو اې لوېدیځو هېوادونو ته تللیو! راځئ راشئ! خپل هېواد ته راشئ! د اړوندو هېوادونو په هدیرو کې ځانونه او اولادونه مه خښوئ، خپل ټاټوبي ته راشئ، د اسلامي امارت غېږ ستاسو لپاره خلاصه ده. او اې له وطنه تلونکو! له خپله وطنه مه وزئ، ستاسو هغه شعار څه شو چې ویل به مو: (وطنه مور یې زموږ!) ولې وطن پرېږدئ؟ او ستاسو یو بل مرشد به ویل: (پورې وي که سپوره، خو په شریکه به وي!) نو اوس چېرته درومئ؟

# موفقیت چیست و فرد موفق کیست؟

ترتیب کننده: پوهیالی خواجه عبدالهادی «صدیقی»

مقدمه: می دانیم که همه برای رسیدن به موفقیت به طور خستگی ناپذیر تلاش می کنند، اما به آنچه که در آرزویش هستند دست نمی یابند، آیا مسیر موفقیت را اشتباه انتخاب کرده اند؟ هدف و مقصود مشخص و روشنی نداشته اند؟ به توانایی ها و امکانات خود بی توجه بوده اند؟ آیا در نیمه راه پی برده اند که هدف مورد نظر در رسیدن به موفقیت سعادتی به دنبال نخواهد داشت؟ سایت آسمونی در این مقاله مطالب بسیار مفید و کاربردی در مورد موفقت عنوان می کند که در ادامه می خوانید« موفقیت همراه با حیثیت طلبی به عصبیت ، ناکامی ، محرومیت و ناخشنودی می انجامد.» هیچ کس جز خود فرد نمی داند که چقدر موفق است چون موفقیت یک حس درونی است که تا فرد باور نداشته باشد کسی نمی تواند بگوید که او فرد موفقی است. پس به حرف دیگران بی اهمیت باشید و سعی کنید که به نظر اطرافیان نسبت به خود فقط لبخند بزنید. ببینید کسانی که درباره شما قضاوت می کنند خودشان چگونه هستند و در کجای راه قرار گرفته اند. در مسیر موفقیت فراز و نشیب ها و چالش های بسیاری است، اما باید به آنها بی توجه باشید تا به آنچه می خواهید برسید. یکی از ویژگی های موفقیت داشتن هدف است، با یافتن راه های درست می توان به موفقیت دست پیدا کرد.

**شاخصه های یک انسان موفق:**

۱- موقعیت شناسی: لازم است بدانید کار انسان شبیه کار دوچرخه است. تعادل دوچرخه تا زمانی حفظ می شود که در یک جهتی حرکت کند. اشکال برخی انسانها این است که می خواهند بدون حرکت و بدون مقصد تعادل خویش را حفظ کنند و برای همین است که احساس تزلزل می کنند باید برای خودتان هدف با ارزشی تعیین کنید و مهم تر از آن طرحی برای دستیابی به آن هدف بریزید. ببینید به دنبال چه می گردید. به آینده فکر کنید و از گذشته دست بردارید اینطوری جوان و شاداب می مانید. بی هدف حتی جسم هم وظایف خودش را درست انجام نمی دهد وقتی هدف ندارید در واقع زندگی نمی کنید شما بجز هدفهای شخصی به اهداف غیر شخصی هم نیاز دارید مثل کمک کردن به دیگران.

۲- تفاهم: اغلب ناکامیهای ما در روابط انسانی حاصل سوء تفاهمات است و برای برخورد موثر با مسائل باید از ماهیت واقعی آن اطلاع داشت. ما با توجه به مجموعه ای از واقعیات یا شرایط انتظار داریم که دیگران هم مثل ما واکنش یا حساسیت نشان دهند ولی فراموش نکنید که هر انسانی با توجه به تصاویر ذهنی خودش نسبت به مسائل واکنش نشان می دهد. اغلب اوقات واکنش یک فرد نسبت به شما بخاطر اذیت و آزار و بدخواهی نیست بلکه به این دلیل است که آن فرد وضعیت را جور دیگری درک می کند، اگر اینگونه به افراد و واکنش آنها نگاه کنید سطح تفاهم در روابط شما بالا خواهد رفت ما تا حقیقت را درک نکنیم نمی توانیم واکنش مناسبی نشان دهیم باید بتوانیم حقیقت را ببینیم و آنرا چه خوب چه بد قبول کنیم. بسیاری از ما این اشتباه فاحش را انجام میدهیم که تقصیرات و اشکالات خود را نمی پذیریم حتی قبول نمی کنیم که جانب اشتباه را گرفته ایم قبول نمی کنیم که شرایط به غیر از آن چیزی است که ما دوست داریم و خود را فریب می دهیم و چون حقیقت را نمی شناسیم نمی توانیم حرکت مناسبی انجام دهیم.

۳- شجاعت: داشتن هدف و درک شرایط کافی نیست، شجاعت عمل لازم است. تنها با عمل کردن می توان اهداف ، امیال و باورها را به حقیقت تبدیل کرد. اصولا در این دنیا چیز ۱۰۰ فیصد مطمئن وجود ندارد. تفاوت میان آدم موفق و غیر موفق در زمینه نقطه نظر ها و توانائیها نیست مسئله شهامتی است که انسان موفق روی نقطه نظرهای خودش نشان می دهد خطرات حساب شده را می پذیرد و دست به عمل می زند، بی تحرکی و دست روی دست گذاشتن انسان را در مواجهه با مسائل عصبی و ناتوان می کند، اگر آنقدر صبر کنیم و دست روی دست بگذاریم تا از نتیجه کاری مطمئن شویم هرگز قدمی برنخواهیم داشت. هر کاری که بکنید احتمال اشتباه در آن است.

الف): سعی کنید با درک حقیقت درباره مردم ارج و قرب آنها را نزد خود بالا ببرید و فراموش نکنید که مردم بنده خداوند هستند.

ب): به خودتان فرصت دهید کمی درباره احساسات، نقطه نظرها، امیال و نیازهای سایرین فکر کنید. مردم را مهم بدانید و با این روحیه با آنان برخورد کنید. بدانید رفتاری که نشان می دهید با احساس شما رابطه مستقیم دارد.

٤- مناعت: از میان تمامی پستی و بلندیهایی که در زندگی وجود دارد نداشتن مناعت نفس کشنده تر از همه و غلبه بر آن از هر کاری دشوارتر است. علتش این است که چاله را به دست خودمان کنده ایم. قبول کرده ایم که فایده ای ندارد، «این کار از دست من ساخته نیست ". خیلی ساده باید در ذهن خود فرو کنیم که دست کم گرفتن خویش ، فروتنی و شکسته نفسی نیست، عیب و گناه است. شخصی که به اندازه کافی مناعت نفس دارد نسبت به دیگران احساس دشمنی نمی کند. به زور در صدد اثبات چیزی بر نمی آید. حقایق را واضح تر می بیند، حالا سوال این است که برای بهبود مناعت خود چه کنیم ؟ تصویر ذهنی انسانهای شکست خورده و بی ارزش را فراموش کنید - مفهوم کلمه مناعت این است که قدر و ارزش خود را می دانید - و قدر ارزشهای خود را دانستن خودبینی نیست مگر اینکه گمان کنید که خودتان آفریدگار خویش هستید. بزرگترین راز کسب مناعت این است که از مردم قدردانی بیشتری بکنید. برای فرد فرد مردم احترام قائل شوید زیرا همه انسانها بندگان خداوند (ج) هستند بنابراین موجود باارزشی به شمار می روند و عجیب آنکه مناعت خود شما با این روحیه بالا می رود.

٥- اعتماد به نفس: اعتماد به نفس با تجربه کردن موفقیت ایجاد می شود وقتی کاری را برای نخستین بار شروع می کنیم از نتیجه اش آنقدرها اطلاعی نداریم علتش این است که موفقیت را تجربه نکرده ایم و باید بدانید که موفقیت تولید موفقیت می کند و حتی یک موفقیت کوچک قدمی برای موارد بعدی است و شما هم می توانید از این روش ساده برای کسب اعتماد به نفس استفاده کنید. روش دیگر ایجاد عادت یادآوری موفقیتها و فراموش کردن ناکامی های گذشته است در حالیکه بسیاری از افراد موفقیتهای گذشته را فراموش می کنند و شکستها را در خاطر نگه می دارند و در نتیجه اعتماد به نفس را از بین می برند، اما راه حل چیست ؟ برای پیروز شدن از اشتباهات پند بگیرید و بعد اشتباه را از ذهن بیرون کنید، موفقیتهای گذشته را بخاطر آورید و آنها را برای خودتان تصویر کنید هر کس بالاخره برای یکبار هم که شده موفقیت را تجربه کرده است.

٦- خود پذیری: تا انسان خود را نشناسد به خوشبختی واقعی نمی رسد. مفلوک ترین انسانها آنهایی هستند که همه سعی شان بر این است که خود و دیگران را به قبول چیزی جز آنچه که هستند مجاب کنند. بی جهت خودتان را جز آنچه هستید نشان ندهید. همین هستید که هستید. اغلب ما بهتر ، قوی تر و شایسته تر از آن هستیم که می پنداریم. با ایجاد تصویر ذهنی بهتر، توانایی ، استعداد و قدرت جدیدی در خودتان ایجاد نمی کنید شما همه اینها را دارید و در واقع فقط آنها را مورد استفاده قرار می دهید. خودتان را آنطور که هستید قبول کنید با تمام تقصیرها ، نقاط ضعف ، نواقص و نقاط قوت شروع حرکت شما باید از اینجا باشد. نواقص خویش را تحمل کنید. اطلاع از کمبود ها لازم است ولی خودتان را بخاطر این کمبود ها تکفیر نکنید. میان خویش و رفتارتان فرق بگذارید. چه غم که کامل نیستید خودتان را ناراحت نکنید خیلی چیزها دارید و همه مثل شما هستند هر کدام که جز این تظاهر می کنند خودشان را گول می زنند.

نتیجه گیری: از مباحث فوق بر ملا مگیردد که انسان ها باید برای پیشبرد زندگی شان تلاش کنند و این تلاش ها باید خسته گی ناپذیر و به موقع و دارای خصوصیات همچون : موقعیت شناسی، تفاهم، شجاعت، مناعت، اعتماد به نفس، خود پذیری و غیره باشند تا بتوانند منیحث انسانهای موفق در جامعه در تنظیم و نظم جامعه ایفای نقش نمایند و منحیث افراد موثر در جامعه باشند، در غیر موارد فوق و مزبور جامعه از وجود افراد به تنگناه آمده و منحیث بردارنده باردوش نقش ایفا مینماید.

منابع ماخذ:


۱- https://www.chetor.com

۲- https:/ /idehalmag.com

۳- https:/ / motalesharif

٤- دهخدا، لغاتنامه.

٥- معین، لغاتنامه.


# د چاپیریال په پاک ساتلو کې خپله روغتیا خوندي کړئ

شاه محمود درویش

ددی له پاره چې مونږ تل د ښه روغتیا څخه برخمن واوسو نو دا ډیره اړینه بریښی چې د خپل د ژوندانه چاپیریال باید تل پاک وساتو تر هغه چې د ژوندانه په پړاویزو شیبو کې تل خوښی او هوساینه مو په برخه شی، البته دمګړی چې ټولنیز بهیر ته نظر واچول شی په ورځنی ډول په میلیونونو تنه ماشومان، تنکې ځلمیان او ځوانان د زده کړی له پاره ښوونځیو، پوهنتونو او نورو تعلیمی مرکزونوته ورځی، همداشان په ټولیزه توګه ګڼ شمیر هیوادوال د دندو په موخه او یا هم دمختلفو کارونو لپاره له کور څخه بهر وځی چې د لارو په اوږدوکې له ککړی هوا او د ککړ چاپیریال له امله له سختو ناروغیو سره مخ کېږي، بناً ډیره اړینه ده چې د ماشومانو او تنکېو ځوانانو تر څنګ په ټولیزه توګه د ټولو وګړو د روغتیا او سلامتیا ساتنی ته باید ډیره پاملرنه وشي، البته په کابل ښارکې د وګړو د ډیرې ګڼې ګونې، د غیر پلانی کورونو د جوړیدو او د کانالیزاسیون د نه شتون له امله واقعاً چې زمونږ چاپیریال ککړ شوی او بیلابیلې ناروغی ډیرې شوي دي، ددغه راز ستونزو د مخنیوی په اړه ډیره ضروری بریښي چې دخپل د ژوندانه چاپیریال باید تل پاک وساتو ځکه چې روغتیا او سلامتیا په حقیقت کې پاک چاپیریال کې نغښتی ده او ناولی چاپیریال واقعاً د روغتیا او سلامتیا په وړاندې ستر ګواښ دی بناُ د چاپیریال د ساتنی لپاره چې کومو چاروته اړتیاده لکه په لومړی ګام کې د ټولو خلکو د پوهاوی کچه باید لوړه کړای شي، دغه رازدیادونی وړ ده چې د ککړ چاپیریال یو عمده لامل د ککړتیاوو او کثافاتو اچول په هر ځای کې دی، بل دا چې زمونږ په چاپیریال کې د کانالیزاسیون نه شتون او په تیر وختونو کې د غیر معیاری کورونو جوړول هغه ستونزی دی چې دمګړی ټول ورسره مخامخ دی او د چاپیریال په ککړتیا کې ستر رول لری، پردی بنسټ د یو با مسوولیته ښارمند په توګه دا زمونږ د ټولو دنده او مسوولیت دی چې لومړی د خپل کور د پاکې او صفایی لپاره باید ډیره هڅه اوهاند وکړو او بیا ټولنی ته پام ورواړوو او هم نورله کوموکسانوسره چې موراړیکې لروباید له دوی سره کاروکړوچې هیوادوال څنګه ځان له ککړتیاوو او کثافاتو وساتی او یایی په ټاکلو وختونو کې مناسبو ځایونوته ولیږدوی او په خوندی توګه یی ځای پرځای کړی تر هغوچې د ښاروالۍ د کارکوونکو لخوا د ښار څخه د باندی مناسبو ځایونو ته انتقال کړای شی، دغه راز اړینه ده چې د دله ییزو رسنیو لخوا د خلکو دعامه پوهاوی په موخه لازم معلومات او ګټوری خپرونې جوړې او خپاره شي تر هغه چې هر ښارمند د ښار د پاکې او صفایی په چاروکې خپل مسوولیتونه اداکړي، دغه راز د ښاروالۍ کوم کارکوونکې چې د تنظیف د ریاست په اډانه کې دنده لري باید دوی په خپل وخت او زمان د ښار په مناسبو ځایونو کې کثافتدانی کېږدي چې خلک د خپلو کورونو اضافی توکې په کې واچوي او ډیره اړینه بیا داده چې دغه کثافتداني باید د موظفو کسانو له خوا کنترول شي چې د ډکېدو په صورت کې په مناسبو وختونو کې ژرترژه د ښاروالۍ د تنظیف ریاست د کارکوونکو لخوا له ښار څخه د باندی ټاکلي ځایونو ته ولیږدول شي.

همداشان دیادونې وړ او ډیره اړینه خبره بیادا ده، لکه څنګه چې وایی ښار د ټولو ګډ کور دی نو په پاکې او صفایی کې یی هم ټول سره ګډ مسوولیت او رسالت لری، پردی اساس په ټولیزه توګه قدرمن هیوادوالو ته ښایی چې د خپلو کورونو اضافی توکې او کثافات په هغو ځایونو کې چې د ښاروالۍ لخوا ټاکل شویدي، واچوي ترڅو چې بیا د ښاروالۍ موظف کسان وتوانیږي هغه ټاکلو ځایونو ته ولیږدوي.

لکه څنګه چې مخکې وویل شول چې ښار د ټولو قدرمنو ښاریانو ګډ کور دی ، نو واقعاً د ګډ کور په پاکې او صفایی کې هم ټول هیوادوال سره ګډ مسوولیت لری، ځکه که چېری ښار مو ناولی وي نو بی له شکه چې د ناولتیا وو د شتون له امله سره له دی چې د ژوند چاپیریال مو ناولی کیږي، ورسره د ټول ښار فضا، اوبه او هوا هم ککړه او ناولی کیږي، نو کله چې د ښار فضا ناولی او ککړه وي نو په ټولیزه توګه قدرمن ښاریان همدا ناولې هوا تنفس کوي چې په ښکاره توګه په ډول ډول ناروغیو د خلکو د اخته کېدو سبب کیږي، پردی بنسټ دا د ټولو هیوادوالو مسوولیت او رسالت دی چې لومړی له کور څخه نیولی بیا د ټول ښار په پاکي او صفایي کې هلې ځلې او بې دریغه کوښښونه ونه سپموي تل خپل د اوسیدو چاپریال او هم د ټول ښار په پاکي او صفایي کې ژمن، بیدار او هڅانده واوسي تر هغو چې په دې توګه د ژوندانه چاپیریال موتل پاک او ښار مو هم ښکلی وي.

په دی هیله چې په ټولیزه توګه ټول هیوادوال د ملي او هیوادنې سپیڅلي احساس له مخې هڅه وکړي چې خپل د اوسیدوچاپیریال تل پاک وساتي اود چاپیریال په خوند یتوب کې خپله ونډه په بشپړی رښتینولي ادا کړي تر هغه چې له امله یې هیواد مو په هرارخیز ډول پاک او د ژوندانه چاپیریال مو هم له هره پلوه خوندي شي.

## غزل

درویش دراني

منزل لیري، لاره ورانه زه هم ستړی ته هم ستړی
څه دي خوښه ده ارمانه زه هم ستړی ته هم ستړی
نه مي ته شې هېرولای، نه زما له خیاله وزې
څه پخلا به شو جانانه زه هم ستړی ته هم ستړی
ځغلوې که مي هر خومره ته به هم راسره ګرځې
قدم ونیسه اسمانه زه هم ستړی ته هم ستړی
د وفا په ورانو لارو بیا سفر غواړې زړګیه؟
دا خبره به شي ورانه زه هم ستړی ته هم ستړی
درویش وایي ښه به دا وي چي په ساري سره پرېږدو
اې د سرو لمبو توپانه زه هم ستړی ته هم ستړی

# خصوصیات اشعار ناصر خسرو بلخی

شیر محمد استوار

درونمایه شعر ناصر خسرو را بیشتر عقاید مذهبی واخلاقی دربر می گیرد ودیوانش سرشار از پند و اندرز وحکمت دینی بوده واو از معدود شاعران مبارزیست که با تازیانه سخن مخالفان افکار واندیشه خود را هدف قرار می دهد. ناصر خسرو در اشعارش افکار فلسفی را در سطح گسترده ی به کار برده وقصیده را به سمت وسوی نظم محض متمایل ساخته است دراشعار ناصر خسرو اعم از قصاید و مثنویاتش ،مسایل فلسفی، اخلاقی ،مذهبی پند واندرز مسایل اجتماعی باز تاب یافته است در باب علم چنین میگوید:

**تن به جان است وجان زنده به علم**
**دانش اندر کان جانت گوهر است**
**علم جان جان تست ای هوشیار**
**گربجویی جانی جان را در خور است**
**در جای دیگر چنین می گوید**
**اگر کار بودست و رفته قلم**
**چرا خورد، باید به بیهوده غم**




**ترا جانت نامه است وکردار خط**
**به جان برمکن جز به نیکی رقم**

ناصر خسرو به مثابه شاعر متعهد ، هدفمند و بامناعت به تحقیر شاعران وسخنوران هرزه سرا، مداح وبی مسولیت روزگار خویش برخاسته وهنر شاعری آنان راتاحد پیشه ی پایین در ردیف خناگری ومطربی کاهش داده است.

**اگر شاعری را توپیشه گرفتی**
**یکی نیز بگرفت خنیاگری را**
**تو درمانی آنجا که مطرب نشیند**
**سزد گر ببری زبان جری را**
**صفت چند گویی زشمشاد ولاله**
**رخ چون مه وزلفک عنبری را**
**به علم وبه گوهرکنی ،مدحت آنرا**
**که مایه ست مرجهل وبدگوهری را**

همین گونه رساله های منظوم « روشنایی نامه»و « سعادت نامه « را که در پند ، وعظ وحکمت است به او منسوب کرده اند که از دیدگاه استاد سعید نفیسی ، ومیخایل زند انتساب این آثار به ناصر خسرو مورد تامل است چنانچه سعادت نامه در واقع توسط شاعر هم نام او شریف در سده ی هفتم هجری سروده شده است.

# جایگاه تعلیم و تربیه در پرتو فرهنگ و آموزه های دین مقدسِ اسلام

پوهنمل سمونمل محمدایوب یوسفی

چکیده

کسب تعلیم وتربیه یکی از اصول اساسی دین مقدسِ اسلام است نخستین آموز گار آدمِ پدر بشریتَ و خالق متعال میباشد (وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاء كُلَّهَا) و [خدا] همه [معانی] نامها را به آدم آموخت.» بقره،۳۱» سپس جبریل امین منحیثِ استاد و مربی پیامبران علیهم السلام ایشان را تعلیم میداد تا اینکه آخرین پیامبر حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم منحیث شاگردِ جبریل امین، منجی و رحمت به مخلوقات این مقام بزرگ را بدوش گرفته معرفی گردید: (عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى) آن را [فرشته] شدیدالقوی به او فرا آموخت. « نجم»۵ ونبیِ مکرم اسلام درحدیثی میفرماید: (اِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّماً) «سنن ابن ماجه باب فضل العلما رقم»۲۲۹» بدون شک که من به صفت آموز گار فرستاده شده ام.

کلید واژه ها: تعلیم، تربیه، فرهنگ، تمدن و آموزه ا سلا م

مقدمه

در میان تمامی ادیان سماوی و مکاتب وضعی بشری اسلام یگانه دینی است که تعلیم و تربیه، آموزش و پرورش در آن اجباری بوده و نخستین پیام قرآن برای کافۀ بشریت همانا خواندن و نوشتن بوده است ( إقرَأ باسم رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ) « علق،۱)» بدون شَک کَه ایَن امر یکی از خصوصیات برجستۀ تمدن مبارکِ اسلامی بوده و همۀ انکشافات و پیشرفت های بشر در عصر حاضر در عرصۀ تعلیم و تربیه از دست آورد های مهمی مسلمان میباشد.

مبحث اول: اهداف و ویژه گی های تعلیم وتربیه در پرتو تعلیمات عالی اسلام

در آموزه های اسلام تعلیم و تربیه اهداف و مزیت هایی دارد که مدنیت های دیگر این اهداف و مزیت ها را از تمدن اسلامی آموخته اند و خود را معلم جهان معرفی نموده مسلمانان را کم علم خطاب میکنند.

گفتار اول: اهداف تعلیم وتربیه در روشنایی رهنمود های اسلام: اهداف تعلیم و تربیه در تمدن اسلام، تربیت متکامل انسان از لحاظِ بدنی، روحی واخلاقی در روشنایی اساسات وارزش های اسلامی میباشد که این نوع تعلیم و تربیه همۀ ابعاد جسمی، روحی، مادی و معنوی انسان را در بر میگیرد.

گفتار دوم: ویژه گی های تعلیم وتربیه در تمدن اسلام: تعلیم وتربیه در تمدن اسلام دارای خصوصیت ها و ویژه گی های ذیل بوده میتواند.

خصوصیت ایمانی
خصوصیت علمی
خصوصیت عملی
خصوصیت اخلاقی
خصوصیت اجتماعی

اگر به صورت جدی مطالعه صورت گیرد البته معلوم خواهد شد که ویژه گی های را که مدنیت اسلامی برای تعلیم و تربیه در نظر گرفته است، جامع ترین و شامل ترین بوده است.

مبحث دوم: مصادر تعلیم وتربیه و اساساتِ روشِ تربیوی در فرهنگ و تمدن اسلام

گفتار اول: مصادر تعلیم و تربیه در فرهنگ اسلام

مصادر تعلیم وتربیه در تمدن اسلام عبارت از قرآن کریم وسنت نبوی صلی الله علیه وسلم بوده که هرکدام به تعلیم وتربیه اهمیت و اهتمام ویژه داده هنگامی که نخستین آیت مبارکۀ قرآنکریم نازل گردید برایش امرشد که: ترجمه: بخوان بنام پروردگارت که آفرید. « علق، ۱» درحدیث شریف به اهمیت تعلیم وتربیه چنان تذکر شده که در جملۀ باقیات صالحات علمی که به شاگردان انتقال و یا به شکل تألیف کتاب در آورده شده و یا به شکل از اشکال از آن استفاده نموده حتی بعد از مرگِ شخص از آن استفاده صورت میگیرد. بخاطر ارزشِ تعلیم وتربیه است که حتی در حالاتِ سخَت جهادهم باید یک تعدادی بخاطر تعلیم وتربیه مصروف شوند. چنانچه خداوند متعال میفرماید: ترجمه: و شایسته نیست مؤمنان همگی [برای جهاد] کوچ کنند پس چرا از هر فرقه‌ای از آنان دسته‌ای کوچ نمی‌کنند تا [دسته‌ای بمانند و] در دین آگاهی پیدا کنند و قوم خود را وقتی به سوی آنان بازگشتند بیم دهند باشد که آنان [از کیفر الهی] بترسند[ توبه ۱۲۲] همچنان نبیِ مکرم اسلام میفرماید: (طَلَبُ العِلمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسلِمٍ) طلب علم برهر مسلمان فَرض است. « سنن ابنَّ ماجه باب فضل العلما والحث علی طلب العلم»

گفتار دوم: اساسات روش تربیوی تمدن اسلام

روش تربیوی تمدن اسلام بر چهار اساس جوهری نقطه گزاری شده است: اساس نفسی، اساس اجتماعی، اساس فلسفی و اساس معرفتی.

جزء اول: اساس نفسی: در اسلوبِ تعلیم وتربیۀ تمدن اسلام، اصلاح دیدگاه ها، تنَوع استعدادها، فروق فردی، سخن گفتن مطابق توانایی ها، روش تدرج و ... امور تربیوی در نظر گرفته شده است. چنانچه درحدیث شریف آمده است که: از انس رضی الله عنه روایت است که گفت: سه شخص به خانه های همسران رسول الله صلی الله علیه وسلم آمده ازعبادت پیامبر صلی الله علیه وسلم پرسیدند: وقتی برایشان گفته شد آنرا کم برشمرده گفتند: ما با رسول الله صلی الله علیه وسلم چه مناسبتی داریم درحالیکه گذشته و آیندۀ شان بخشیده شده است یکی از ایشان گفت: من همیشه در تمام عمر شب نماز میگزارم. دیگری گفت من درتمَام عمر روزه میگیرم وسومی گفت: من از زنها دوری گزیده و هرگز ازدواج نمی کنم. وقتی که رسول الله صلی الله علیه وسلم آمد فرمود: شما همان کسانی هستید که چنین وچنان گفتید؟ اما به الله سوگند که من از همۀ شما از الله جل جلاله بیشتر ترسیده، و ازهمۀ شما پرهیزگارترم، روزه میگیرم و افطار میکنم نماز میخوانم و خواب هم میشوم و زنان را به نکاح میگیرم و کسی که از سنت من اعراض کند از من نیست.

«بخاری، کتاب النکاح، باب الترغیب فی النکاح، رقم ۵۰٦۳»

جزء دوم: اساس اجتماعی: دومین اساس تعلیمی وتربیوی تمدن اَسلام اصلاحات اجتماعی در نظر گرفته شده است مثلاً: برای حفظ جامعه از فساد برای جوانان چنین توصیه شده است.

از عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت است که: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمودند: ای جوانان هرکس از شما توانایی فراهم کردن خانه ومسکن را دارد ازدواج کند زیرا با ازدواج بهتر میتوان چشم پوشی و پاکدامنی نمود اگر کسی توانایی ندارد روزه بگیرد زیرا روزه شهوت را ضعیف میکند. « مسلم، کتاب النکاح، رقم ۱۴۰۰» این ارشاد رسول الله صلی الله علیه وسلم به اساسِ این هدایت قرآنکریم بود که میفرماید: ترجمه: کسانی که [وسیله] ز نا شویی نمی‌یابند باید عفت ورزند تا خدا آنان را از فضل خویش بی‌نیاز گرداند.» نور،۳۳»

